شهسوارسنګروال

۲۰۲/۰۹/۲۵

# د غوراصلي اوسېدونکې،

## (ترکان، پښتانه که تاجکان؟)

## ۳برخه

**د غوريانو ژبه،**

دا چې د روايتونو له مخې او د ټبر پېژندنې او نسب پېژندونکو پر بنسټ د غوريانو د نسب شجره د پيشداديانو د افسانوي پاچا ضحاک (سهاک) پورې رسيږي او سراولف کيرو هم د هېرودوت له قوله ليکلي دي: «دوئ پرتوګونه اغوستل، اوږدې څوکه لرونکې خولۍ يې په سرولې، لينډۍ، غېشي، تبر، چمنډ کونه به يې له ځان سره ګرځول او د سګاريس sagares په نامه ياديدل .
دغه وګړي «امورګين توراني» وو، خو د سهاکو پنامه يادېدل، ځکه چې ايرانيانو، ټول تورانيان په دغه نامه يادول.
»امورګوساکو» په هغه ژبه خبرې کولې، چې د اوسنی «پښتو» اساس دی .«
د پوهاند «ډورن»، الفستن، بيلو او نورو تاريخپوهانو او لرغون پېژندونکو په اند ، « د غور وګړي او خلک په اصل کې پښتانه دي. » بيلو وايي:
»زه په ځغرده وايم، دوی د هغه ټبر اولاده ګڼلې شو. چې په ۱۰۰۹ ز کال يې د سلطان محمود لښکر چې له هند نه راستون شو او د سترو غنايمو سره غزني ته روان وو، په لاره کې غلزيو (غرجيو) لوټ کړ او بيا په ۱۰۱۰ ز کال کې سلطان په غوسه شو او د دوی په کلاويې بريد او يرغل وکړ او ورانې يې کړې «
د بيهقي درِوايت له مخې، چې «بار تولد پخپل کتاب» تاريخي جغرافيه «او هولديچ «holdechيې هم يادونه کړېده، ليکي: «امير مسعود له غوريانو سره د ترجمان په مرسته خبرې کولې .« بار تولد او هولديچ هم د دې خبرې پخلې کريدی: «د غور خلک پخپلې ځانګړې ژبې خبرې کوي او د خراسان له ژبې سره مشابې نه ده .« بارتولد د اصطخري دغه خبره ردوي، چې ويلې دي:
»د غور ژبه د خراسان ژبه ده .« ډاکټر اصغر فروغي په کتاب «تاريخ غوريان» کې داسې ليکلي دي: «د يادو څېړنو پر بنسټ غوريان او په ځانګړې ډول د غوسيمواوسيدونکوخلکوژبه له لرغوني زمانی له ابتدا نه تر پنځمې پيړی پورې په پښتو ژبې خبرې کولې، له هغه وروسته له نورو ګاونډيو سيمو، په ځانګړې ډول خراسان نه، د مسافروپه توګه ، دبريد ګرو په بڼه را ننه وتل او يوشمېر ژبو په دغه ترڅ کې پارسي ژبې غور ته لاره پيدا کړه .«

**د غور لرغوني پښتانه،**

عمومي خبرې : د ويدي او اوستايي پېرونو په سرودونو کې داسي نومونه او وپيونه مونډل شويدي، چې د اوسني پښتون له نوم سره تړاو مومي .
ګڼ شمېر تاريخپوهان، لرغون پېژندونکي او ژبپوهان، د امنې، چې پښتون د افغانستان د لرغوني تاريخ د کارنامو يوه ستره غوښنه برخه جوړوي.
على اکبر جعفري د ژبپوه مورګن سترن له انده کښلې دي چې په ويدي سرودونو کې د «پرشو» کليمه، په اوستايي سرودونو کې پرشوانه (پرشانه)، دېته ورته په سنسګرت کې (پرشوانه=پرشانه=پرسوانه) د اوسني «پښتانه» يا پښتون لرغوني نومونه دي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د بېستون په ډبر ليکنو کې د لرغوني پارتيا (پرتو= پارتو) نوم د «ت» پر ځاې «ث» کښل شويدي، ياني :
پارثيا= پرتو. دلته ګورو چې د ويدي په سرودونو کې «پرشو» په اوستايي او سنسکرت ژبو کې پرشوانه، پرسوانه، پرشانه او د بېستون پارتيا=پرتو او د لرغونو اريايانو د يوه ټبر نوم «پارت» يا پارتيا (پارتيان) دا اوددې په څېر د هېرودوت «اپاريتی، اپريتي ... » ( اوسني اپريدي )د ژبپوهنې پر بنسټ ګډه ريښه لري .
احمد علي کهزاد د پارتيانو په اړه په دغو ټکو ټينګار کوي چې «پارتيان يوه اريايي څانګه ګڼلی کېږي او يو باختري (پکت=پخت= پختيان) ټبر دی، چې په اوستا کې بخدي او په ريګويد کې پکهت يا پخت زکر شوی او د استوګنې ځاې يې «سپيتاګونا کيري (سپين غر) دی ...»
له دې سربيره په اوستايي پېر کې د «سيريم» اصطلاح هم کارول شوېده، چې هېرودوت، بطليموس او نورو لرغونپوهانو پکت، پښت، پکهت، پخت بللي دي .
همدا راز په اوستايي نورو متونو کې د تور کليمه راغلی ده چې توران اصطلاح سيمې ته کارول شويده او «تورانيان» چې همدغه ټبريې ګڼلي ده، د هخامنشيانو په ځنو متونو کې دوی ساک (ساکان)، ساکي، سهاک ګڼلی شويدي، چې عرب ليکوالو بيا همدغه نوم «ضحاک=ضهاک) کړيدی.
په زکر شوو بيلابيلو لاسوندونو او څرګنددونو کې داسې بريښې چې د همغه ټاکلي تاريخ او وخت نوم او انځور به خپل شکل او بڼه کښل شويدي. د مثال په ډول، هېرودوت په مخزيړدي پنځمې پېړۍ کې داسې په ګوته کړېده، چې دغه وګړي، هغه مهال د ننګرهار او پېښور تر مينځ سيمو کې ودان ول او په دې يې ټينګار کړيدی، چې د ننګرهار »پکتيان» د بخدي له خلکو سره په ډېرو کړو وړو کې ورته وو.
ښايي دهېرودوت موخه چې ده پخپلو څرګندونو کې د پکتيان، پختيان او اپريتيان نومونه د بڼې په لړ توپير کښلي دي، چې په اوسنی بلخ (بخدی)، په اوسني پکتيا (پکت) او د اوسني ننګرهار او پېښور تر مينځ استوګن اپريدی (اپريتی=اپاريتی) وګړي وو، د اوسني نومونو په پرتله همدغه پښتانه وو، چې په باختر، پختيا او ګندهارا کې مېشت او ودان ول.
که څه هم نامتو ژبپوه جورج مارګن سترن «پکتيان» پښتانه نه بولي. ولې دواړه نظرونه ښېګڼې هم لري او تېر وتنې هم ، داځکه چې ژبني او تاريخي بنسټونه، ډېر ځله کټ مټ يو نشي نه وي، چې ووايو: ۲+۲=۴ کېږي .
د يوې سيمې دوه نامتو پوهانوچې يو يې ناورېژی ژبپوه مارګن سترن دی د ژبپوهنې پر بنسټ خپل نظر څرګند کړي دي، بل يو «ډنمارکي» تاريخ پوه او ختيځ پېژندونکی کرستن سن دی چې د ساسانيانو د تاريخ ليکوال دی، ده د فريدون افسانوې انځور داسې کښلی دی.
»د اشکانيانو په پېر کې، دغه کيسه له ساکانو نورو اريايي څانګواو قومونو ته تللې ده، ساکيان انګېري، چې د دوئ پاچا ، نړۍ د درې زامنو تر مينځ وېشلې وه :
- سيرمين، سيريميان، سيريمه (sairima)
- تويرينه ) tuiryanaتوران(
- ايرينه airyanaايران
د سريمان اوښتی بڼه «سليمان» دی، چې وروسته له دی ورڅخه سليمانخيل جوړ شويدی. خو په ځنو متونو کې د سليمان غر اصطلاح هم راغلي، چې کسی غر يې هم بولي او د پښتنو يو ټاټوبی ګڼل کيږي . په دې اړه سر محقق دوست شينواری د «راورټی» له قوله ليکلی دي:
«پښتانه د سليمان په غرونو کې اوسېږي او دوئ يوازې په لويديځه اسيا کې د سليمانيېو پنامه نه ياديږي بلکې په شمالي او ختيځه اسيا کې هم په دغه نامه ياديږي، د مثال په توګه د هغه ښکلې ګونبځه چې د کنګا په غاړه په «چونارګړ» کې ولاړه ده، د شيخ قاسم سليمانی په نامه ياديږي.»
ټول اريايي وګړي چې تر ډېره بريده کوچيان ول دغسې پښتانه هم پووندہ وه او د موسم په بدلون به له يوه ځايه بل ځايته کوچېدل، چې خپلو څاروېيواو رمو ته د څړ ځايونه پيدا کړي، نو ځکه خو دوی د سليمان غره شاوخوا ته ودان وو او دغو غرونو او سيمې اوړدوالی، چې پښتانه پکې اوسېدل شپږ سوه (۶۰۰) کيلو مترو ته رسيده.
همدارنګه فيروز کوه د سليمان د غره په څېر يو بل ستر غر وه چې پښتانه پکې اباد وو.
تاريخپوه کهزاد پخپل کتاب «افغانستان در پرتو تاريخ» کې په دې تړاو ليکلی دي: «غوري شنسبيانو، چې د حکومت پلاز يې «غور» وو، له تخار، بدخشان او باميانو نيولې ان تر کشمير پورې واک درلود «.
په دغه وخت کې تر ډېره بريده د غور اوسيدونکي سوري، لودي (شنسبيان، موهويان) پښتانه وو.
له غوري پښتنو سربيره له کابله نيولې، غزني، زابل، کندهار، هلمند او ان تر سيستانه پورې د نورو پښتنو په څنګ کې لويکانو پښتنو هم په يادو سيمو لکه د غوري سلطنتې کورنۍ په څېر د سيمه ييز واک څښتن ول.
دلته د پښتنو د استوګنځاې دوه سيمې په ګوته شوې، چې يوه سيمه د سليمان غر او بله سيمه د «فيروز کوه» وه، ولې د دې خبرې مانا دا نده چې په نورو سيمو کې پښتانه مېشت او ودان نه وو.!؟
يو شمېر ختيځپوهان او لرغون پېژندونکي به دې اند دی، هغه مهال چې سکندر هند ته په لاره خپل پوځ د لغمان (لمپاکا=لمک=لمکان=لمغان=لغمان) په سيمه کې په دوه برخو ووېشه، د خيبر پوځي ډلګۍ د «هيپايسن



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«hepahaestion او پریډیکاس predicas په مشر تابه مخ په اټک رهي شول او د ستر پوځ مشري پخپله د سکندر په غاړه وه او د کونړ په لاره باجوړ، چترال او سوات ته واووښت.
له نامتولرغونپوه « ارین » نه ان تر مستر بیلو پورې ګڼو څېړونکو او لرغونپوهانو د سکندر د دغه سفر په اړه څرګندونې کړېدي، چې د پښتنو له سخت غبرګون سره مخامخ شوی وو.
ګڼو څېړونکو دغه وګړي «د سنسکرت د اسواکا (اسوه غانه)، اسپه سي (اسپه زي=یوسفزي) ګڼلي. ولې دوئ داسې نه وو چې یوازې په یوه ټاپو کې اوسېدل، بلکې دوئ د چترال او باشګل درى له لارې، ان د سغدیانې له خلکو سره راشه درشه درلوده .»
دغه تله او راتله د پامیر له لارې کېده او ښايي د هېرودوت د یادونې له مخې د ګندهارا په سیمه کې د څلورو قومونو شتون، (ستاګېدي، اپریتي، ګنداري او دادیکي)، په دغه لړ کې یو هم «دادیکا» چې غبار د هېرودوت له انده پښتانه ګڼلي دي، د پامیر او ګندهارا تر منځ چې د سوات او چترال له لارې تګ راتګ کاوه ، یادولی شو .
له ګندهارا نه تر سغدانیه پورې، د دغې سیمې په منځ کې د تخارستان پراخه ځمکه پرته وه او ځانګړې جغرافیوي جوړښت یې د پام وړ وو، خو هغه وخت یې ارزښت لا زیات شو، چې «سلوکوس نیکاتور د (۳۰۰) مخزیږدي کال په شاوخوا کې د «اې خانم» ښارګوټی ودان کړ .
وروستیو څېړونکو د یادو لرغونو تېرونو په څنګ کې د ګوجرو او راجپوتانو یادونه هم کړېده او دغه قومونه د لوی افغانستان په بیلابیلو سیمو کې پښتنو سره یو ځای اوسېدلي دی، چې مور سوات، مردان، نورستان، کونړ، لغمان، بدخشان او تخار د ساري په توګه یادولی شو.
سراولف کارو پخپل کتاب «پټانز» کې د مستربیلو bellew له قوله داسې لیکلي دي:
»افغانان او راجپوتان د کرکتر، دودونو او رواجونو له مخې سره ورته دي لکه میلمه پالنه، پت، عزت، ننګ پالنه، د ملي شرف د ساتنې، میرانه، ویاړ او غرور «.
دده دڅېړنو پر بنسټ ګوجر د پیټلیانو په خدمت کې و، اوس هم ګوجرپه سوات ،دیر مرد ان او دګندهاراپه یو شمېر سیمو کې پښتنو سره یوځای اوسیږي او تر ډېره بریده ددوی مشر،خان او ملک یوپښتون دی .
په لرغونې ز مانه کې یوشمېر قومونه د بېلګې په توګه یوشمېر قومونه چې په ګندهاراکې اوسېدل،چې یادونه یې په ویدي سرودونو کې شوېده،چې بیا پروفیسر «رالف ګرفت » دغه ویدي سندرې په انګلیسي ژبې ترجمه کړیدي او بیا یې خپلې انګېرنې ورسره غبرګې کړیدي،څو بیلګې داسې دي ،« پکتهاس،بهالانا، الینا ،شیوایان اونور.
دغه پکتاس ښايي همغه دهېرودوت پکتیس وي،چې په ویدي سرودونو کې پکتاس دخپل تبر پاچا په ګوته کړی دی او هم یې بل پاچا دتوریانا پنوم نامتو و .
له دې سر بېر ه د نیکا یا ،نیسایا،ساکیا نومونه هم یاد شویدی ،چې ځنې دسیمو نو مونه دي او ځنې بیا دقومونو...
ختیځپوه «مګ ګورن » په دې نظر دی چې له افغانستانه تر پارس اوان دهند شمالي سیمو پورې دلرغونوسیتیانو اولاده اوزوزات ودان وو .
تراوسه پورې هیڅ تاریخپوه اوژبپوه په څرګنده نه دي وېلي ،چې پښتانه لرغوني ساکان وي !؟ که څه هم په اوستا کې د«اسپه » نوم رېښه هم ساکي کې اوهم پښتو کې شتون لري .
»دمستربیلو» په څېرتاریخپوه وايي،په کونړ کې چې کوم تېرله سکندرسره لاس وګریوان شول هغه «اسپه سیان » ول ،چې اوسني سا پیان یې بللی شو.
هېرودوت دساکې مشرې «تومیریس » (زرینه ) یادونه هم کړې ده ،چې د «سیروس » پوځ یې له مینځه یووړاوسرومال درانه زیا نونه یې ورواړول .
د مرکزي افغانستان یو شمېر واکمن،له غور او فیروز کوه نه نیولې تر مروې، بامیان، تخارپورې واک درلود، د «شنسب ماهوي» کورنۍ وه، چې دوئ په اصل کې د تیزو آسونو درلودونکي او یا«شین اس» څښتن ولس ګڼل کېده، )خوسپس (khoaspes یانې د ښو آسونو هېواد او یا ښايي د «شنسب» د شینسپ یانې د «شین اسپ» په مانا وي!؟
د شنسب اولاد ه ، هماغه سوري امیرفولاد پورې رسېږي ،چې وروسته ،د غورتولواکمنی مینځته راځي،چې د تولواکمنې پولې له پارس نه ترهنده پورې یقیني دي .

(نوربیا)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ